PROPERTY OF ACKU

DAILY ارادہ

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۱۲۱

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یوولسم کال - دویمه دوره، ۱۱۲۱ مه گڼه، پر له پسې ۲۱۹۵ گڼه د ۱۳۹۰ ل.د وري ۱۹ مه - د شنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق شوال المکرم ۱۲ مه د ۲۰۱۱ د سپتمبر ۱۰ مه

پاکستان رهبران طالبان را اجازهٔ اشتراک در گفتگوی صلح نمی دهد

سفیر ایالات متحده امریکا در کابل گفته است که پاکستان رهبران طالبان را اجازه نمی دهد که به افغانستان بیایند و در گفتگوی صلح اشتراک کنند.

راین کراکر که از طریق تیلفون با روز نامهٔ " یو اس تودی" صحبت می کرد گفت: " به آنانی که می خواهند گفتگو کنند باید موقع داده شود و به آنانیکه می خواهند، بجنگند، بر خلاف آنها اقدامات صورت گیرد تا آنها از جنگ دست بکشند". همچنان او گفت که فراهم ص۳

افغانستان ته د بهرنیو مرستو د ځنډ اصلي لامل څه دی؟

د افغانستان د مالیې وزارت له دې هېواد سره مرسته کوونکو هېوادونو ته ډاډ ورکوي، چې تر وسه به یې پیسې په ښه ډول ولګول شي.

د افغانستان د مالیې وزارت ویاند عزیز شمس د ناروې د مرستو ځنډ ته په اشاره وویل، هیله نه لري چې نور مرسته کوونکي هېوادونه دې هم له افغانستان سره خپلې مرستې وځنډوي: "مور له مرسته کوونکو هېوادونو او سازمانونو غواړو، چې پر خپلو ژمنو ودرېږي، مور به په هغه غونډه کې چې د مالیې وزارت او ډونرانو تر منځ کېږي، ۳مخ

تاثیرات منفی مداخله امریکا در پاکستان

به گزارش اسلام تایمز، از وقایع ۱۱سپتمبر در امریکا ده سال می گذرد اما امریکا به این بهانه، همچنان به عملیات نظامی در نقاط مختلف در جهان به ویژه پاکستان دست می زند.

اسلام تایمزمی افزاید: جنگ امریکا به اصطلاح علیه تروریزم، باعث شده که نظم و سیستم قبایلی پاکستان از بین رفته و مشکلات امنیتی و اقتصادی در این نقاط شدید تر گردد.

پاکستان تنها کشوری است که در جنگ به اصطلاح علیه تروریزم با واشنگتن همکاری کرده و همزمان با آن، با تاثیرات منفی این جنگ روبرو شده است.

مداخله امریکا باعث شد که سیاست خارجی پاکستان زیر سلطه واشنگتن قرار گیرد. آن زمان پاکستان به ریاست " پرویز مشرف " بعد از حملات ۱۱ سپتمبر ۲۰۰۱میلادی به نیویارک و واشنگتن، همه خواسته های امریکا برای همکاری بدون شرط با آنکشور در رابطه با حمله به افغانستان را پذیرفته بود .

اسلام آباد اطلاعات محرمانه را درباره ص۳

د لوی او بښونکي خدای ﷻ په نامه

سرمقاله

ستراتیژیکه همکاري باید پر ستراتیژیکو اصولو او معیارونو ولاړه وي!

له څه مودې راهیسې په افغانستان او تر افغانستان بهر له امریکا سره د افغانستان د ستراتیژیکو اړیکو او هکاریو په اړه خبرې روانې دي، دا خبرې په داسې حال کې راپورته کېږي، چې امریکا غواړي تر ۲۰۱۴ وروسته هم له افغانستان سره اړیکې او په دې هېواد کې پوځي حضور ولري. خو همدې ټکي ته په کتو سره د هېواد د ننه او بهر هم په دې اړه مخالفتونو سر راپورته کېږي دي. د هېواد یو شمېر کارپوهان له امریکا سره د ستراتیژیک ترون د دوام او څرنګوالي په اړه اندېښمن دي، سربېره پر دې د سیمې هېوادونه په ځانګړې توګه د افغانستان ګاونډي هېوادونه هم له امریکا سره د افغانستان پر ستراتیژیک ترون اندېښنه ښیي او دا د ځان او افغانستان لپاره په زیان بولي. خو بلخوا بیا افغان دولت او امریکا وایي چې له افغانستان سره ستراتیژیک ترون به هېڅکله د افغانستان او د افغانستان د ګاونډیو هېوادونو لپاره زیانمن تمام نه شي. په همدې حال کې د افغانستان دولت یو لوړپوړی پلاوی هم په همدې موخه امریکا ته رسېدلی او غواړي په دې اړه ورسره خبرې اترې وکړي.

دغه پلاوی له تېرو دوو ورځو راهیسې له افغانستانه د امریکایي پوځیانو تر وتلو وروسته د دواړو هېوادونو د اړیکو د څرنګوالي په دې اړه یوې هوکړې ته د رسېدو په موخه په واشنګټن کې پر خبرو بوخت دی. د یاد پلاوي مشري د افغانستان د ملي امنیت شورا سلاکار رنګین دادفر سپنتا کوي، خو د امریکا له خوا د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیرې په ځنګ کې د افغانستان او پاکستان لپاره د متحدو ایالتونو ځانګړی استازی مارک ګراسمن او د افغانستان او پاکستان لپاره د ولسمشر اوباما ځانګړی مرستیال ډاګ لوټ هم ګډون کړی. اسوشیتید پرېس وایي چې دواړه خواوې لا هم تر ۲۰۱۴ کال وروسته د افغانستان له اډو څخه د امریکایي پوځیانو د ګټې اخیستنې د شرایطو پرسر اختلاف لري. د پلاوي اصلي موخه چې د ستراتیژیکو همکاریو د سند برابرول ښوول شوي، پر اساس به یې د دواړو هېوادونو ترمنځ داوږدمهالو همکاریو د کچې او پراختیا طرحه برابره شي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت وایي دا طرحه یا چوکاټ به د ګډو ارزښتونو او د باثباته او خپلواک افغانستان لپاره، چې د سخت دریځو ډلو په پناه ځای نه بدلېږي، د ژمنو پخلي وکړي. دواړه هېوادونه به همدا راز له دې فرصته د امنیت، حکومتداری، اقتصاد، ټولنیزې پراختیا او سیمه ییزو مسایلو په اړه خبرې وکړي. دا په داسې حال کې ده، چې د تېر (۲۰۱۰) کال د مې پر لومړۍ نېټه د امریکا ولسمشر بارک اوباما او د افغانستان ولسمشر حامد کرزي ژمنه وکړه چې د افغانستان او امریکا د ستراتیژیک مشارکت یا همکارۍ ګډه اعلامیه به تازه کړي. په دې توګه باید ووایو چې امریکا که د هرې لارې وي او هر څنګه، دا غواړي چې له افغانستان سره اوږدمهاله همکاري او ستراتیژیکې اړیکې ولري، خو دا مهمه مسئله د هر غور او څېړلو ته اړتیا لري، افغان دولت او امریکا باید دا مسئله د سیمې، په ځانګړې توګه د افغانستان له ګاونډیو هېوادونو سره هم شریکه او د هغوی هوکړه او موافقه هم ترلاسه کړي او همداشان د بن په دویم کنفرانس کې هم دا موضوع په جدي توګه وڅېړل شي او د افغانستان د کورنیو اصولو او قوانینو او همدشان د نړیوالو اصولو او معیارونو پر بنسټ ستراتیژک ترون لاسلیک شي، له دې پرته دا مسئله د سیمې او افغانستان د امنیت او سوکالۍ لپاره خطرناکه واقع کېدای شي، ځکه د سیمې او ګاونډ هېوادونه د امریکا او ناټو لخوا مهاله شتون سخت اندېښمن کړی او پر ضد یې خپلو پټو او ښکاره مبارزو ته دوام ورکړی، خو که چېرې د امریکا شتون په دې هېواد کې اوږدمهاله شي، نو ښایي تر یو شمېر امریکایي او د ناټو د پوځونو تر وتلو وروسته د سیمې او ګاونډ هېوادونه نور هم خپلو لاسوهنو او د هغوی پر ضد مبارزې ته ادامه او پراختیا ورکړي، چې په دې سره به نه یوازې د هېواد امنیت له ګوابښونو سره مخ شي، بلکې نورې نوې ناخوالې او بحرانونه به هم له ځانه سره ولري.

پالیسی پاکستان، پالیسی آتش افروزانه است

محمداحسان پنجشیری

پاکستان هیچگاه و در هیچ زمان همسایه خوب و مطلوب برای افغانستان نبوده است. این کشور همیشه در فکر ایجاد شرارت در افغانستان بوده و هست. نمی دانم چرا پاکستان از استقرار امنیت و ثبات و از ایجاد یک حاکمیت مقتدر ملی در افغانستان ترس دارد و از آن خوشش نمی آید؟

سردمداران خود کامه و ماجراجوی پاکستانی دنبال چه اهدافی در افغانستان اند که با جان مردم مظلوم سرزمین سوختهَ ما این گونه بازی می کنند و دست از دخالت و ایجاد شرارت برنمی دارند؟

شرارت های پاکستان باعث ویرانی سرزمین ما شده است و مردم ما را گرفتار مصیبت های زیادی کرده است و هیچ تردیدی وجود ندارد وقتی هر روز تعداد زیادی از هموطنان ما کشته می شوند در واقع این دستان تروریستان خون آشام پاکستانی است که به خون فرزندان میهن ما آغشته می باشد.

پالیسی پاکستان، پالیسی آتش افروزانه است که متأسفانه هنوز که هنوز است این پالیسی تغییر نکرده و سیاست های خصمانه این کشور در قبال افغانستان منجر به تباهی و در بدری این خطه شده است و پاکستان از جنگ در افغانستان و از نفاق و ناامنی های موجود در افغانستان بهره برداری های زیادی کرده است .

برای دولت مردان پاکستان بسیار لذت بخش است که هر روز شاهد ویرانی افغانستان و شعله ورشدن آتش جنگ در کشور ما باشند رهبران سیاسی و استخباراتی پاکستان (آی اس آی) فکر می کنند با ناامن ساختن افغانستان و دامن زدن به نفاق و با گرفتن جان انسان های بی گناه قدم به قدم به اهداف شوم شان نزدیک تر شده و می توانند از آب گل آلود ماهی بگیرند، ولی ملت سحلشور افغانستان روزی به سردمداران پاکستان تفهیم خواهد کرد که دخالت در امور دیگران یعنی چه؟

هر زمامداری که در پاکستان به قدرت رسیده است، سیاست یکسانی را در مورد افغانستان اتخاذ کرده است که دراین میان تفاوتی بین حاکمان پاکستان نبوده است اگر بوتو یا نوازشریف ویا جنرال پرویز مشرف و آصف علی زرداری در این کشور به کرسی نشسته اند در مورد افغانستان سیاست مداخله گرانه را دنبال کرده اند و در امر تمویل و تجهیز تروریستان، غلامان و... سعی وافر را بخرچ داده چنانچه ما شاهد به قتل رسیدن رهبران شبکه القاعده اسامیان اسامه بن لادن، عطیه عبدالرحمن، وقاص، ابوحفصه النجدی و... در خاک پاکستان هستیم که در مهمانخانه های مخصوص و مجهز دولت پاکستان بسر می بردند که این کشور توسط تروریستان تفرقه، نفاق و خونریزی های زیادی را در افغانستان راه انداخته، و امروز که مردم خسته از جنگ افغانستان تلاش دارند تا حاکمیت شان را در سرزمین شان تثبیت کنند می بینیم دخالت های پاکستان برای بسیاری از نا امنی های ایجاد شده در افغانستان به آن کشور همسایه ختم می شود. درست است که پاکستان سیاست مداخله در امور افغانستان را در پیش گرفته است اما نباید فراموش کرد نیروهای دلیر امنیتی افغانستان که واقعاً می توانند برای کشور ما سپردفاعی خوبی بحساب آیند و ص۳

پاکستان تر کله د افغانستان لپاره د ستر ګوانس په توګه؟

نسیم بریال

له ډېر پخوا نه داسې ویل کېږي چې پاکستان په پراخه کچه د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه کوي. دا لاسوهنه په حقیقت کې د اوسنیو وختونو یا په بله وینا د ښاغلي کرزي په دورې پورې تړلې خبره نه ده، بلکې تر دې پخوا هم د طالبانو، تر هغو مخکې بیا د مجاهدینو او همداسې وړاندې دورو پورې تړلې ده. پاکستان په یادو ټولو دورو کې تر خپلې وسې وسې د دې هېواد په کورنیو چارو کې لاسوهنه کړې ده، خو اوسمهال چې نړیواله ټولنه او نړیوال ځواکونه په دې هېواد کې شتون لري، نو د پاکستان لاسوهنه هم ورسره ښه په درز کې روانه ده. په عمومي توګه د افغانستان په اړه د پاکستان سیاست هم دوه ګونې او حتا درې ګونې اړخ لري، مانا دا چې په لومړي ډول سیاست کې په ظاهره چیغې وهي، چې د افغانستان له دولت سره دوستي کوي او د افغانستان یو ښه ګاونډی دی، خو په حقیقت کې له افغانستان سره د ښه ګاونډیتوب هډو هېڅ خیال هم نه ساتي، بلکې لا هم د دې هېواد ورانۍ او تباهۍ ته لاس اچوي او په همدې کې خپلې ګټې ګوري.

دویم ډول سیاست یې دا دی چې دوی په دې هېواد کې د ای ایس ای په واسطه او مرسته ډېر داسې کسان مقامونو او واک ته رسولي دي، چې د پاکستان لپاره ستراتیژیک ارزښت او اهمیت لري او له دې لارې دوی په دې هېواد کې خپلې موخې او ګټې ترلاسه کوي.

درېیم ډول سیاست یا پالیسي یې داده، چې د افغانستان د دولت مخالفانو ته هر ډول امکانات او مرستې برابروي، هغوی ته روزنه ورکوي او د دولت په مخالفت کې د هر ډول قربانیو او سرښندنو روحیه او مفکوره ورکوي او په دې سره ځانونه خپلو موخو ته نږدې کوي او په دې توګه هم د دولت له اړخه د دې هېواد په چارو کې لاسوهنه کوي او هم د دولت له مخالف اړخ څخه او دا د پاکستان تر ټولو خطرناک او پېچلی سیاست دی. امریکا او نړیوالې ټولنې له لسو کلونو را په دې خوا په افغانستان کې د ترور ېزم د ځپلو موخه عملیات پیل کړي. چې هغوی نه یوازې په دې عملیاتو کې بریالیتوب نه دی ترلاسه کړی، بلکې له خپل ټول زور او طاقت سره سره بیا هم له ماتې سره مخ دي، چې اصلي علت یې د تروریزم د ریښو نه په نښه کول دي، ځکه که د یوه ونې ځانګې هر ځومره و ځپل شي، خو تر هغو یې چې ریښې له منځه لاړې نه شي، ونه نه وچېږي او بیا بیا ځانګې راوړي. تروریزم هم دې ته ۳ مخ

اشتباهات چهارگانهٔ ...

دست گرفتند با الگو گرفتن از کشورهای دموکراتیک، انتخابات آزاد برگزار می کردند و شیوه دیگری برای حکومت خود در پیش می گرفتند، مطمیناً نه تنها در مقام خود باقی می ماندند بلکه می‌توانستند حکومت را برای فرزندان خود نیز به ارث بگذارند.

اما امروز آنها همه چیز را به باد دادند، خودشان، گذاشته شان، آینده فرزندان و دارایی‌شان و همه آن چه را سالها ساخته و به آن دل بسته بودند و اکنون نیز در انتظار رحمت محاکم مردمی و رأفت و عطوفت ملت‌های خود هستند تا در سمت‌های جدید شان یعنی مجرم، دزد و قاتل به آنها ترحم کنند و از همه بدتر اینکه، تمام نشانه‌ها و آثاری که از خود به جای گذاشته بودند، توسط ملت‌های شان به زباله دادن تاریخ انداخته می شود.

پالیسی پاکستان، پالیسی ...

شورش ها را سرکوب کرده و در برابر دخالت ها و تهدید ها و ماجراجویی های بیرونی اقتدار افغانستان را نشان دهند و دست کشورهای متجاوز همچو پاکستان را قطع کرده و در مقابل آن ایستاده خواهند شد

تاثیرات منفی مداخله امریکا ...

افغانستان با واشنگتن مبادله کرده و همچنین بعضی از پایگاهای نظامی کشورش را جهت عملیات در افغانستان در اختیار امریکا قرار داد.

هرچند این جنگ منافع مالی را برای حاکمان پاکستان در برداشته اما این همکاری، به ضربه زدن به استقلال و تمامیت ارضی پاکستان منجر شد.

در این جنگ، پاکستان در سطح بین المللی بعنوان یک مرکز تروریستی معرفی شده و مشکلات امنیتی در داخل کشور نیز تشدید گردید.

علاوه برآن، مداخله امریکا باعث شد که سیاست خارجی پاکستان زیر سلطه واشنگتن قرار گیرد.

قرار اظهارات سازمان استخباراتی امریکا " سیا " امریکا طی این فرصت توانست شبکه های جاسوسی خود را در نقاط مختلف پاکستان راه اندازی کرده و برای اداره آن، دهها جاسوس محلی و خارجی را استخدام کند.

در این مدت، همه شهرهای بزرگ پاکستان از جمله لاهور، کراچی، کویته، پشاور، راولپندی و اسلام آباد شاهد وقایع خشونت بار تروریستی از جمله حملات انتحاری بوده و حتا اجتماعات دینی، مساجد و تکیه خانه ها،نیز از دست تروریست ها امنیت نداشته اند.

مراکز پولیس و ارتش نیز مورد حملات تروریستی قرار گرفته و تعداد زیادی از نیرو های امنیتی پاکستان جان خود را از دست دادند.

تحلیل گران می گویند، طی ده سال اخیر، پاکستان بسیاری از خواسته های امریکا را پذیرفته است، همچنان کارشناسان امور نظامی، امریکا را مسوول اوضاع فعلی پاکستان دانسته و عقیده دارند که پاکستان، امروز به دلیل حضور امریکا به یک کشور نا امنی تبدیل شده و گرفتار مشکلات عدیده سیاسی، اجتماعی و اقتصادی شده است، به دلیل آنکه فرصت مداخله برای واشنگتن در امور داخلی اسلام آباد را فراهم کرده است. چنانکه نقاط قبایلی پاکستان بیش از دیگر مناطق این کشور تحت تاثیر مداخله امریکا قرار گرفته است.

با ادامه چنین وضعیت، نقاط قبایلی پاکستان به یک مرکز بزرگ تروریستی تبدیل شده و گروههای متعدد تروریستی در این نقاط مستقر شده اند.

امریکا به واسطه این گروهها به عملیات در این نقاط دست می زند و البته این اقدامات فرهنگ و سنت های دیرینه این حوزه هم مرز با افغانستان را تحت تاثیر قرار داده است.

مناطق قبایلی پاکستان قبل از ۱۱ سپتمبر در امنیت و صلح و آرامش بوده ولی امروز این نقاط عشایری شاهد درگیری، خشونت و آدم ربایی می باشد.

چنانچه طی این مدت هزاران نفر از افراد این قبیله ها جان خود را از دست داده و یا زادگاه های خود را به مقصد نقاط امن، ترک کرده اند.

منابع آزاد سیاسی می گویند، ساکنان قبایل، امروزه از دو طرف در معرض حمله قرار دارند، از یک سو هدف تروریست ها قرار گرفته و از سوی دیگر هدف حملات امریکا به مناطق آن ها به بهانه مقابله با تروریست ها قرار میگیرند.

این منابع می گویند، طی ده سال اخیر بیش از دو صد تن از سران قبایلی پاکستان در حملات انتحاری جان خود را از دست داده اند.

علاوه برآن، دهها تن از اندیشمندان، هنرمندان، خواننده های قبایلی نیز از جمله افرادی هستند که به دلیل ترس از تروریست ها از این نقاط به دیگر مناطق پاکستان مهاجرت کرده اند.

پاکستان ترکله د افغانستان لپاره ...

ورته دی. دا چې ریښې یې تر افغانستان بهر دي، خو له بده مرغه ځپلتیا او کوبل یې په افغانستان کې صورت مومي او تر اوسه پورې یې ریښو ته هېڅ غرض هم نه دی شوی. د دې پر ځای چې نړیواله ټولنه او امریکا د تروریزم په اصلي ریښو پسې وګرځي، دوی یې په ځانګو پسې ګرځي او همدا لامل دی، چې په افغانستان کې په همدې پلمه پیل شوې جګړه د هرې ورځې په تېرېدو سره نوره هم سختېږي او پېچلې کېږي. په دې توګه که چېرې امریکا او نړیواله ټولنه په واقعي مانا سره غواړي چې دا جګړه په خپله ګټه ژر پای ته ورسوي، نو دوی باید د تروریزم ریښې او ځالې له منځه یوسي او د تروریزم ریښې او ځالې بیا هم له افغانستانه بهر دي. په همدې حال کې د امریکا یوه سناتور چې تېره اونۍ یې پاکستان او افغانستان ته سفر درلود، ویلي او خبرداری یې ورکړی، چې پاکستان د افغانستان لپاره تر ټولو اصلي خطر دی او د دغه هېواد استخباراتي اداره (ای ایس ای) د کابل د حکومت لپاره تر ټولو لوی خطر دی.

د جمهوري غوښتونکي ګوند سناتور مارک کیرک دا خبره سیمې ته تر دوه اوونیز سفره وروسته وکړه. تر دې لږ مخکې د امریکا د سمندري زخیره استخباراتو قومندان په یوه وینا کې تور لګولی و، چې د پاکستان استخباراتي اداره ای ایس ای د حقاني شبکې ملاتړ او ساتنه کوي.

سناتور کیرک وویل: «د دغو خبرو پر وړاندې د پاکستان د حکومت د چارواکو څرګندونې له یوې مخې دروغ دي.»

د فرانس پریس خبري اژانس د راپور له مخې د پاکستان استخباراتي اداره ای ایس ای له اوږدې مودې راهیسې له هغو سخت دریځو ډلو او ترهګرو سره اړیکې ساتي، چې د افغانستان او پاکستان د پولو په اوږدو کې په قبایلي سیمو کې ځای پر ځای دي او په افغانستان کې د امریکا په مشري ځواکونو پرضد جنګېږي.

سناتور کیرک وویل: «اجازه راکړئ چې اعلان وکړم؛ دېر امریکایان په افغانستان کې د پاکستان دا ای ایس ای له لاسه وژل شوي، اعلان کوم چې هغه وخت راغلی چې اسلام اباد ته د امریکا مرستې بندې کړو.» ده همداراز وویل: «پاکستان د افغانستان لپاره پر اصلي خطر بدل شوی. د پاکستان استخباراتي اداره د افغانستان د حکومت لپاره تر ټولو خطرناکه ده. دا اداره په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو ژوند ته هم لوی خطر پېښوي.» له طالبانو سره تړلې د حقاني شبکه هم د افغانستان په ختیځ کې د امریکایي پوځیانو لپاره تر ټولو خطرناکه ګڼل کېږي.

سناتور کیرک دا هم وویل: «ما پر ۲۰۰۸ کال په افغانستان کې محافظه کاري کوله. باور مې کاوه چې پاکستان پېچلی دی، مور په دغه هېواد کې ډېره دلچسپي لرو او له دیپلوماتیکو لارو ستونزې ورسره حل کوو، خو اوس نور پر دې باور نه یم.» نو په دې توګه که چېرې امریکا او نړیواله ټولنه د ترور بزم اصلي ریښې له منځه یونه سي او همداشان د افغانستان په چارو کې د ګاونډیو هېوادونو په تېره بیا د پاکستان او ایران لاسوهنه په بشپړه توګه بنده نه شي، نو په دې هېواد کې د جګړې د پای ته رسېدو خبره هسې یو جنون دی او په یاد صورت کې به جګړه همداسې نوره هم اوږده او پېچلې کېږي.

افغانستان ته د بهرنیو مرستو د ...

هغوی ته به خپلې لاسته راوړنې، د پولې سیسټمونو د ښه والي راپور ورکړي، چې دغه مرستې په ښه ډول لګول کېږي."

په وروستیو کې د ناروې د بهرنیو چارو وزیر وویل، له افغانستان سره خپلې کلنۍ مرستې څخه ډېوي، چې په دې هېواد کې د کابل بانک ناوړین پای ته نه دی رسېدلی.

خو د افغانستان د مالیې وزارت وایي، تر اوسه یې د ناروې څخه داسې سند نه دی ترلاسه کړی، چې ګواکې ناروې په رسمي ډول له افغانستان سره خپلې مرستې ځنډولې دي.

افغان کارپوهان د ناروې د مرستو ځنډولو ته په کتلو وایي، کېدای شي نور هېوادونه هم له افغانستان سره خپلې مرستې وځنډوي.

ډاکتر توفان وزیري وایي، که افغان حکومت نړیوالو ته د خپلې ښې حساب ورکوونکې اداري ډاډ ورنه کړي، نو نور هېوادونه به هم د ناروې په ډول عمل وکړي: "که چېرې افغان حکومت او شخصي سکتورونه ونه شي کولای، چې د هغو هېوادونو، چې له افغانستان سره سیاسي او اقتصادي همکاري کوي قناعت حاصل نه کړو، یوه شفافه اداره رامنځ ته نه کړو، چې په هغه کې حساب ورکول وجود ونه لري، نو ممکن افغانستان به د نورو هېوادونو له عکس العملونو سره مخ شي او دا به د افغانستان پر اقتصاد او خلکو بدې اغیزې ولري."

د مالیې وزارت چارواکي وایي، د نورو مرسته کوونکو هېوادونو مرستې له افغانستان سره دوام لري او په خبره یې چې امریکا په وروستي ترون کې له افغانستان سره ۱,۳ میلیارډه او نړیوال بانک په روانه اونۍ کې ۹۰ میلیونه ډالره مرسته کړې ده.

دغه وزارت وایي، IMF یا د پیسو نړیوال صندوق ځکه له افغانستان سره خپلې مرستې ځنډولي، چې د افغانستان له بانکي سیستم سره یې مرسته کوله.

څه وخت مخکې د افغانستان لوی څارنوالۍ وویل، چې د هغو کسانو دوسیه بشپړه شوې، چې د کابل بانک په ډیوالي کولو او ستونزه کې یې لاس درلود. ومو غوښتل، چې د لوی څارنوالۍ او اړوندو محکمو څخه دا معلومات ترلاسه کړو، چې له کابل بانک څخه اخیستل شوي پورونه بیرته سپارل شوي او که نه، خو له زیاتو هڅو سره سره هغوی په دې اړه خبرو ته حاضر نه شول.

دا زادي راډیو د رپوټ پر بنسټ، د عدلي اداره د معلوماتو له مخې له دې بانکه شا او خوا ۲۰۰ کسانو د ۹۱۲ میلیونو ډالرو پورونه پورته کړي، چې د چارواکو په وینا ځینې یې په ضمانت او ځینو ته بیله ضمانته ورکړل شوي.

پاکستان رهبران طالبان را اجازهٔ ...

آوری زمینهء گفتگو با طالبان به همان پیمانهء که به نفع افغانستان است، به همان پیمانه به مفاد و خیر پاکستان نیز خواهد بود.

قابل تذکر است هر زمانی که دولت افغانستان خواسته روند پروسه صلح را در سطح ملی و بین المللی تسریع نموده و باب مذاکره را با مخالفان باز نماید، پاکستان به نحوی از انحاء کارشکنی و سنگ اندازی نموده و مانع پیشرفت این پروسه شده است.

چنانچه هم اکنون که پروسه صلح از طرف افغانستان با جدیت به پیش میرود، پاکستان با بهانه های مختلف از این پروسه شانه خالی نموده و طرفه میرود.

چنانکه راپورها حاکیست که پاکستان یک تعداد رهبران طالبان را به شمول سیدطیب اقا که در پاکستان به سرمیبرند، تحت نظارت قرارداده است تا به این وسیله شورای صلح و جامعه بین المللی قادر نگردند که با رهبران طالبان باب مذاکره را باز نمایند.

سنگ اندازی پاکستان در امر صلح نتها برای افغانها بلکه برای جامعه جهانی نیز واضح و مبرهن شده است.

چنانکه مارک کرک یک سناتور حزب جمهوری خواه امریکا پس از سفر دوهفته یی اش به منطقه گفته است که: "پاکستان تهدید عمده برای افغانستان به حساب می آید".

سیاست مداران، تحلیل گران، نماینده گان پارلمان و در مجموع تمام ملت افغانستان به این باوراند که دولتمداران پاکستانی در قسمت افغانستان صادق نبوده و نیت سوء دارند.

از این رو تازمانیکه سیاست پاکستان در قبال افغانستان تغییر ننماید هیچ گونه امیدواری صلح در افغانستان وجود نخواهد داشت وگذشته از آن تداوم سیاست کنونی پاکستان در قبال افغانستان، پاکستان را نیز نابود خواهد کرد.

اشتباهات چهارگانهٔ دیکتاتوران

تحلیل البیان

این روزها که خورشید دیکتاتوران منطقه یکی پس از دیگری غروب می کند و نظام‌های خودکامهٔ آنها به زباله دان تاریخ می پیوندد، انتظار می رود که همتاهای آنها در دیگر کشورهای عربی به خود بیایند و سرنوشت شوم و تلخ بن‌علی‌ها، مبارک‌ها و قذافی‌ها را آیینهٔ عبرت خویش سازند و بدانند که پایان خود کامگی و ستم چیزی جز نابودی و فروپاشی نیست.

اگر صدام، رییس جمهور سابق عراق از سرنوشت ملک فاروق، پادشاه مصر درس عبرت می گرفت، یقینا آنچه که با آن مواجه شد، به سرش نمی‌آمد. اگر زین‌العابدین بن علی، رییس جمهور مخلوع تونس از وضعیت صدام عبرت می گرفت، به سرنوشت امروزش دچار نمی شد. اگر حسنی مبارک، رییس جمهور سابق مصر با دیدن عاقبت بن علی اشتباهات وی را تکرار نمی کرد، به عاقبتی همانند همتای تونسی‌اش دچار نمی شد و در نهایت اگر معمر قذافی، رهبر فراری لیبیا از سرنوشت این رهبران سرنگون شده درس می گرفت، امروز به این حال و روز نمی افتاد.

با مقدمه یی که گفته شد، این سوال مطرح است که آیا سران کشورهایی که انقلاب به پشت در کاخ‌های شان رسیده از سرنوشت همتایان خود درس عبرت خواهند گرفت یا منتظر می مانند که با همان تجربه ذلت‌بار روبرو شوند؟

در واقع باید گفت، این مسأله نیازی به تحلیل و بررسی موشکافانه ندارد و پاسخ آن مثل آفتاب روشن است. تغییر ایجاد می شود و هیچ راه فراری وجود ندارد، چه ما بخواهیم و چه نخواهیم آنچه که مهم است، این است که نباید وقت را از دست داد و هرچه زودتر باید به خواسته‌های ملت تن داد.

بیشتر نظام‌هایی که سرنگون شده‌اند، یا در آستانهٔ سرنگونی هستند، همان نظام‌هایی هستند که در طول حکمرانی شان، بین خود و ملت دیواری آهنی کشیده‌اند؛ دیوارهایی که به هیچ وجه راه نفوذ به آنها وجود ندارد. حکومت‌هایی که در مدت زمام داری خویش اشتباهاتی مرتکب شده‌اند و این اشتباهات اندک اندک در دیوار فولادی دیکتاتورهای خود کامه شکافی ایجاد کرد و چیزی نگذشت که این دیوار در برابر جریان جدیدی که از اعماق وجود ملت های عرب بر خواسته بود، فرو ریخت.

سئوال اینجاست که این نظام‌های دیکتاتوری چگونه می توانند، بیشتر از این پایداری کنند، در حالی که حتا پشتوانه‌های اندک داخلی و حامیان بزرگ خارجی خود را نیز، از دست داده‌اند.

بزرگترین اشتباه این نظام‌ها این است که افرادی منفعت طلب را گرد خود جمع کرده‌اند؛ افرادی که واقعیت را وارونه به اطلاع حاکمان شان می رسانند.

همه حرف این منفعت طلب‌ها در این خلاصه می شود: "همه چیز بر وفق مراد است قربان، ملت شما را با ۹۹/۹۹ درصد انتخاب کرده، همیشه دعاگوی شماست و آرزوی طول عمر را برای جناب عالی دارد، ملت همه چیز دارد که بخورد و در سایهٔ حاکمیت عادلانهٔ شما هیچ چیز کم ندارد ...".

حاکم خود کامه نیز، با اینکه می داند واقعیت غیر از این است، اما تحمل شنیدن هیچ صدای مخالفی را ندارد و این افراد نیز در واقع چیزی بر خلاف آنچه که حاکمان زورگو می خواهند به آنها عرضه نمی کنند.

با وجود پارلمان، مجلس ملی و کنفرانس‌هایی که به شکلی تقریبا قانونی تشکیل و برگزار می شوند، اما این مجالس بعد از اینکه آلوده به فساد می شوند، دیگر خواسته کسانی که آنها را برگزیده‌اند، بیان نمی کنند.

اشتباه دوم این است که این رهبران خود کامه باور کرده‌اند، خداوند آنها را برگزیده است و آنها بر دیگران برتری دارند و حاکمیت آنها به خواست خدا ادامه پیدا خواهد کرد اما هیچگاه این مساله را تصور نکرده‌اند که ملت‌های آنها در لایه‌های درونی جامعه قدرتی بسیار عظیم دارند که می تواند منفجر شود و نظام آنها را زیرو رو کند. آنها نمی دانند همانگونه که کسی نمی تواند برای همیشه زنده بماند، حکومت نیز برای همیشه در دست یک فرد باقی نخواهد ماند.

بد نیست به این نکته اشاره کنیم که بنا به میل جاودانگی که در ذهن ناخودآگاه بشریت است، رهبرانی که طی چند ماه گذشته سقوط کرده‌اند و آنهایی را که طی ماه‌ها یا سال‌های آینده به آنها می پیوندند، به این باور رسانده است که باید تا آخرین قطره خون بجنگند و در مقابل ملت خود بایستند، حتا اگر تمام نشانه‌ها حاکی از پایان بازی باشد و آنها بدانند که کارشان تمام شده است.

اما سومین اشتباه روسای خود کامه این است که آنها نه تنها از اوضاع عادی و مسایل روزمره مردم فاصله می گیرند بلکه حتا خود را از تحولات سیاسی، اجتماعی و علمی بشریت نیز جدا می کنند.

جهان امروز جهان تکنالوژی است، جهانی که دانشمندان فزیک، کیمیا و دیگر علوم گوناگون آن را اداره می کنند واین همان چیزی است که رهبران خود کامه آن را نمی فهمند.

جهان امروز، جهان جوانان و نسل جدید است، نسل فیس بوک و تویتر، همین جوانانی که زین العابدین، مبارک و قذافی را از اریکهٔ قدرت به زیر کشیدند.

عجیب است که ملت‌های عرب چگونه در این مدت طولانی توانسته اند، نظام‌های خودکامه یی را که از مدت‌ها قبل مشروعیت خود را از دست داده‌اند، تحمل کنند.

و بالاخره اشتباه چهارم این است که آنها بازخواست و قضاوت آینده گان را فراموش کرده‌اند.

اگر این حاکمان یک نظام دموکراتیک را از خود به ارث می گذاشتند، یقینا نام آنها در کتاب تاریخ برای همیشه ثبت می‌شد.

اگر این حاکمان به محض اینکه حکومت را به

ص ۳

معیار های بین المللی حقوق بشر برای تطبیق قوانین

روش اخلاقی و حقوقی: حقوق بشر از کرامت ذاتی فرد بشر سرچشمه می گیرد. کارمندان مجری قوانین، باید در همه اوقات به قانون احترام داشته و از آن اطاعت نمایند.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپانه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپانه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: ۰۷۰۰ ۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجنیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com